پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۳/۱۲/۱۴

# له افغانستانه د باندنیو ځواکونو د بشپړو وتلو په صورت کې

د ۲۰۱۳زیږدیز کال د نوامبر له ۱۹ تر ۲۵ نیټې پورې رابلل شوې لويې جرګې در رايو په اتفاق تصويب کړه چې د کرزي او د امريکا حکومتونو تر منځ دې امنيتي تړون لاسليک شي. د جرګې د پای په وروستی ورځ ولسمشر ښاغلي کرزي د لويې جرګې د ۲۵۰۰ تنو غړو مخې ته په زغرده اعلان کړه چې امنيتي تړون به تر راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پورې لاسليک نه کاندي.

دا خبرې ددې لامل شوې چې د امريکي او د هغې د ټلوالي د محدودو ځواکونو د پاتې کيدلو او يا د ځواکونو د بشپړو وتلو پوښتنه راپورته شي؛ د کرزي له همدغه دريځه وروسته ول چې د امريکي د ملي امنيت سلاکاره ميرمن سوزن رايس کابل ته راغله تر څو ښاغلي کرزي ته په ډانګ پييلي ژبې ووايي چې امريکي ته افغانستان هومره ارزښت نه لري لکه تاسو يې چې ګومان کوئ. ميرمن رايس ښاغلي ته ور په ياد کړه چې امريکا کولای شي صفري انتخاب يعنی د ځواکونو د بشپړو وتلو لاره غوره کړي.

ښاغلي ست. ج. جونز چې يوه موده يې په افغانستان کې تيره کړې يو کتاب ليکلی چې « د ستروا‌کيو په هديرې، افغانستان کې د امريکي جګړه» نوميږي؛ ښاغلی جونز اوس مهال د «راند» د نړۍ وال امنيت او د دفاعي پاليسی د مؤسسي رئيس دی. نوموړي د ۲۰۱۳زيږديز کال د نوامبرد مياشتې په ۲۶ نيټې د والستريټ په ورځپاڼي کې يوه مقاله ليکلې چې په يوې برخې کې وايي :« د اوباما حکومت ته اړينه ده چې امريکايي ولس ته په زغرده ووايي چې امريکا له ۲۰۱۴ زيږديز کال وروسته په افغانستان کې د پاتي کيدلو هيله منده ده. د افغانستان او امريکا د حکومتونو رسمي چارواکي بايد يو ځل بيا د ارزوني ميز ته راوګرځي. د امريکا حکومت دې هغه اشتباه بيا تکرار نه کړي چې په عراق کې يې وکړه. امريکا د عراق له حکومت سره کوم تړون يا جوړ جاړي ته ونه رسيدله، پايله دا شوله چې امريکي خيله بريا اعلان او په بشپړ ډول له عراقه ووتله. خو همدی امريکي په خپله له عراقه په وتلو وليدل چې القاعده بيرته سوريي او عراق ته راوګرځيدله.» په خواشينی هغه شيبيي به هم په ياد راوړو چې د شوروي ځواکونو له وتلو سره سم امريکا هم افغانستان ته شا واړوله او افغانستان له کټ مټ برخليک سره مخامخ شو. پاتي دې نه وي چې په امنيتي تړون کې داسې فقره نه شته چې له مخې يې په افغانستان کې د سولي او آرامۍ ضمانت وشي. وسلوالو مخالفينو امنيتي تړون غندلی او په زغرده يې ويلي تر هغو به له خپلې وسلوالې جګړې څخه په شا نه شي چې ټول باندني ځواکونه له افغانستانه نه وي وتلي. دا کټ مټ هماغه هيله ده چې په سيمې کې يو شمير حکومتونه ورته په ګونډو کابو ناست دي. د وخت په تيريدلو ددې جګړې په دوام کيدای شي دا جګړه په يوې نه غلبه کيدونکي جګړې او ان د ملي خپلواکۍ لپاره په مقاومت بدله شي.

د افغانستان جغرافيوي موقعيت تل ځانته د نړۍ والو او سيمه ييزو سولندو او تيري ګرو ځواکونو سترګې راکاږلي دي. په نولسمي پيړۍ کې افغانستان د ښکيلاکګرو زبرځواکونو د سياليو او جګړو په ډګر بدل شوی وو، همدا لامل وو چې د تزاري روسيي او بريتانيي تر منځ د يوه منځګړي يا «بفرستيت» هيواد په توګه ومنل شو.

د شوروي تيري او د تيرو پنځوديرشو کلونو جګړو افغانستان په بشپړ ډول ويجاړ کړ، په همدې لړ کې ول چې د ترهګرۍ پر ضد د جګړې په تور نه يوازې د امريکي، د هغې د ټلوالي او د ناټو تر بريد لاندې راغی بلکه ايران، پاکستان او د روسيي د ګډو ګټو د هيوادونو ټلواله تر نن پورې د هيواد په کورنيو او ملي چارو کې لاسوهنه کوي؛ ددې تر څنګ هند او چين دواړه د سر چينو د ترلاسه کولو لپاره په افغانستان کې له يو بل سره سيالي لري.

د ستونزې د هوارۍ لپاره تر اوسه يوازيني له پوهې ډک وړانديز چې وړاندې شوی هماغه د ډاکټر جونز وړانديز دی چې ويلي يې دي :« افغان او امريکايي رسمي چارواکي دې يو ځل بيا د ارزوني ميز ته راوګرځي». موږ بايد يو ځل بيا د کشالې د هوارې لپاره ټولې لارې چارې وخيږو؛ په دې لړ کې دې نه يوازې په افغانستان کې د ټلوالي د ځواکونو د پاتې کيدلو يا نه پاتې کيدلو لارې چارې و څيړل شي بلکه د حل نورې لارې چارې دې وپلټل شي چې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سولې او امن په لارې کې د بریا ډېر امکانات له ځان سره ملګرې ولرې ترڅو د ښکیلو هیوادونو او ددې حساسې سیمې امن ورسره بدرګه وي.

افغانستان تـل د آسیا د لویې وچې سویس بلل شوی دی خو هیڅکله د سویس په شان د یوه بېطرفه حقوقي هیواد په شان نه دی ګڼل شوی. المان، فرانسه، ایتالیه، اطریش او لیکتن ستاین د سویس ګاونډي هیوادونه دي. سویس د خپل تأریخ په اوږدو کې د خپلو ګاونډیو له لاسه ددومره جګړو، وینو تویېدونو او لاسوهنو شاهد دی چې بیلګه یې د افغانستان په تأریخ کې په پرتله بیز ډول لږ په سترګو کیږي. په ۱۷۹۸زیږدیز کال کې ول چې انقلابي فرانسې، د سویس هیواد ونیو خو کله چې د فرانسې سیالانو اطریش او روسیې فرانسې ته ماتې ورکړه نو اطریش او روسیې په ګډه سویس تر خپلې ولکې لاندې راوست. په ۱۸۱۵زیږدیز کال کې د ویانا کانګرس د سویس استقلال یو ځل بیا په رسمیت و پیژانده او اروپایي هیوادونو د سویس بیطرفي په رسمي ډول ومنله. وروسته سره له دې چې سویس یو ځل بیا د کورنی مذهبي - بیلتونپالنې د اور په لمبو کې ګیر شو خو ګاونډیو هیوادونو د سویس بیطرفی ته په درنښت وکتل. سویس په ۲۰۰۲زیږدیز کال کې د ملګرو ملتونو غړی هیواد شو؛ ملګرو ملتونو د سویس استقلال او حقوقي بیطرفي په رسمیت وپیژندل. افغانستان په لومړنی نړۍ والې جګړې او د خپل استقلال له لومړیو ورځو نیولې ان په دوهمې نړۍ والې جګړې او د سړې جګړې د کلونو په اوږدو کې د خپلې بیطرفی د سیاست موقف ټینګ وساته او په ۱۹۶۱زیږدیز کال کې د ناپیلتوب د غورځنګ له بنسټ اینودونکو څخه وو چې د خپلې بیطرفی دغه موقف یې د شوروي اتحاد تر خونړي یرغل پورې ژوندی وساته.

سویس او افغانستان دواړه سمندر ته د لارې په نه لرلو په وچې کې راګیر هیوادونه دي؛ لومړنی یې د اروپا په زړه او دوهم یې د آسیا په زړه کې ځای لري. دواړه هیوادونه د خپلو جغرافیوي موقعیتونو له کبله په وینو لژند، له تیریو او جګړو ډک ورته تأریخونه لري. سویس د «کانتونونو» په منځ کې د فرقوي جګړو په ډَرولو او د بیلابیلو ژبو، دودونو او مذهبونو په لرلو په هوښیارۍ په دې وتوانید چې د خپل هیواد یو والی وساتي او د خپل هیواد او پرګنو لپاره د هوسایۍ او سوکالۍ لاره پرانیزي. که افغانستان ته سره له دې چې بیلابیل قومونه، ژبې او مذهبونه لري همداسې یوه موقع ورکړل شي نو کولای شي خپله خاوره د آسیا په زړه کې د سولې، ولسواکۍ او هوسایۍ په خاورې بدله کړي.

**د حل دغه دریمه لاره د لاندنیو شرایطو غوښتونکې ده:-**

۱- د ټلوالې ځواکونو وتل دې په تدریجي ډول تر هغه مهاله دوام وموموي چې د هیواد ملي وسلوال ځواک د هیواد د امن د ټینګولو بشپړه وړتیا تر لاسه کوي. که نړۍ وال ځواکونه په بشپړ ډول له هیواده وځي نو د هغوی ځای دې د ملګرو ملتونو سوله ساتونکو ځواکونو ته ورکړل شي او دا ځواکونه دې د ملګرو ملتونو له هغو غړو هیوادونو څخه وي د افغانستان د ملت اعتراض وربانذې لږ وي.

۲- په افغانستان کې هغه سوله چې د نوي غوړیدلې ډیموکراسۍ د ټینګښت لامل ګرځي ددې غوښتونکې ده چې سیمه بیز او د نړۍ والې ټلوالې د هیوادونو ځواکونه دې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د افغانستان د استقلال، د افغانستان د ځمکنی بشپړتیا او د افغانستان د حقوقي بیطرفی تضمین دې وکړي. د حل دغه دریمه لاره به د افغانستان پرګنو او د نړۍ ټلوالې ځواکونو ته د بریا زیری له ځان سره بدرګه ولري او سوله او امن به د لړې وینې او لږ لګښت په بدل کې ټولو ته په لاس ورسي. د حل دغه دریمه لاره د حل له نورو ټولو شته وو لارو چارو څخه تر ټولو ښه او معقوله ښکاري. د ۲۰۱۳ل کال د دسمبر ۷ نیټه

پوهاند بشیر احمد زکریا
د کولمبیا په پوهنتون کې دایمي پوهاند او خاص مدرس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ